


د نړۍ پټ رازونه

《 بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ 》

د کتاب پیژندنه :

د کتاب نوم : د نړۍ پټ رازونه

لیکوال : فیض الحمن فواز

کال : 2026

ډالي :

د امت هغو ویښو ځوانانو ته چې د باطل په رنګینو کې خپله عقیده نه پلوري او د حق په لټه کې دي.

**0. سریزه**

**1. فکري جګړه (Ideological Warfare)**

**2. اقتصادي لومه او سودي نظام**

**3. د خوراک او روغتیا په نوم دسیسې**

**4. د پټو سازمانونو رول (ماسونیت او صهیونیزم)**

**5. د ویش سیاست (قوم ، ژبه او مذهب)**

**6. مټریکس (The Matrix) د شیطان پټ جال**

**7. ځوانان؛ د دښمن د دسیسو لومړۍ کرښه**

**8. د خلاصون لاره ....!**

**د نړۍ پټ رازونه**

♡

## 0. سریزه :

**صهیوني عروج یوازې د یهودو پروژه نه ده بلکې دا یو نړیوال پلان ده چې پکې د نصاراوو ، شیعه ګانو ، ماسیونانو ، ملحدینو ، هندوانو د عربو او عجم سیکولرانو ټول ځواکونه د یو واحد بیرغ ترسیوري لاندې سره یوځای شوي دي او د یوه واحد پلان لاندې په بیلا بیلو نقابونو کې کار کوي د دغه پروژې مشر دجال دی او الهام ورکوونکی یې ابلیس (شیطان) دی ټول نظامونه د خپلو بیرغونو او شعارونو په توپیر سره د دجال او ابلیس په لاس کې کاریدونکي وسایل دي.**

**رسول الله ﷺ فرمايلئ: نږدې ده چې پر تاسې به ټول قومونه داسې راټول شي لکه څنګه چې د خوړو خوراک کوونکي پر خپل لوښي راټوليږي.**
**( سنن أبي داود )**

**تل چمتو واوسئ ځکه موږ په يو سخت پړاو کي کرار لرو او په هغه زمانه کي ژوند کوو چي هغه څه پيښيدونکي دي چي زموږ ذهن يي لا تر اوسه تصور نکوي،**

**د فکرونو وينځل روان دي د الله تعالي لاري ته راستنيدونکي او د سپيڅلي فکر او عقل خاوندان بريالي دي،**

**خو د اسلامي اُمت د ژغورني او يو ځاي والي لپاره به يو ژغورونکي کس ډير ژر ځان ښکاره کړي چي د ډير وخت راهيسي يي مسلمانان په انتظار دي،**

**هو دا هماغه امام مهدي ده چي لارويان به يي د سپيڅلي فکر او عقل خاوندان وي خو بدبخته به هغوي وي چي فکرونه يي وينځل شوي.**

**خو دا بايد تل په ياد ولري ...!**

**اسلام يوازي د عباداتو دين نده بلکي يو ټولنيز او د ژوند په ټولو اړخونو پوري تړلي نظام دي،**

**کاروبار ، اقتصاد ، حلاله ګټه د دي دين لويه برخه ده،**

**اسلام بايد يوازي په لمونځ ، روژه ، مدرسه او مسجد پوري منحصر نکړو،**

**مسلمانان بايد اقتصادي ځواک ولري تر څو د نړۍ په سياست ، ټيکنالوژي او نورو برخو کي پوره واک او صلاحيت ترلاسه کړي.**

**خو تاسي بايد ټول ژوند او ټول عمر هم پيسو ګټلو او دنيا ته وقف نکړي د دي ترڅنګ بايد ابدي ژوند اخرت ته هم کار وکړي،**

**د نړۍ پټ رازونه**

**موږ په داسې يوه زمانه کې ژوند کوو چې د حق او باطل جګړه له ميدانونو څخه زموږ د کورونو تر منځ، زموږ تر لاسونو (موبايلونو) او حتی زموږ تر افکارو پورې را رسيدلي ده.**

**نننۍ نړۍ يوازې هغه څه نه دي چې موږ يې په رنګينو رسنيو او فلمونو کې ګورو، بلکې تر دې پردې تر شا داسې پټ لاسونه او دسيسې کار کوي چې غواړي د انسان فطرت ، عقيده او آزادي له منځه يوسي.**

**څکه خو د وژلو وسايل مهم ندي...!**

**د فکرونو تسلط مهم ده.**

**که چيرته تاسو خپل ذهنونه له غلامي ونه ژغورې نو ايمان ، ازادي او انسانيت به درڅخه ګډه وکړي...!**

**د نړۍ پټ رازونه**

دا کتاب چې د نړۍ پټ رازونه نوميږي يو داسې هڅه ده چې د معاصرې نړۍ هغه پټې جالې او "مټريکس" درته رسوا کړي چې کفري نړۍ او شيطاني سازمانونو زموږ د ځوان نسل لپاره غوړولي دي.

د دې کتاب د ليکلو هدف ناهيلي نه ،

بلکې بيداري ده.

هر فصل د دې لپاره ترتيب شوی چې ستا د فکر په سترګو کې د حقيقت رڼا واچوي او درته وښيي چې د يو مسلمان په توګه ستا مسئوليت او د خلاصون لاره څه ده.

**زه هیله من یم چې دا کوچنۍ هڅه به د ځوانانو په فکري بیداري کې یو مثبت ګام ثابت شي.**
**له الله تعالی څخه غواړم چې دا عمل په خپل دربار کې قبول او د امت د بیدارۍ وسیله وګرځوي.**

**په درنښت ستاسو ورور ....!**

**د نړۍ پټ رازونه**

# 1. فصل :

## فکري جګړه او کلتوري يرغل

دا چې څنګه د رسنيو ، فلمونو او ټولنيزو شبکو له لارې د مسلمانانو عقيده او کلتور په نښنه کيږي راځي دلته يې يو ځاي ولولو.
په معاصره نړۍ کې جګړې يوازې په ټوپک او باروتو نه کيږي بلکې تر ټولو خطرناکه جګړه د انسان د ذهن او فکر جګړه ده، کفري نړۍ پوهيدلي ده چې د مسلمانانو ماتول په نظامي ډګر کې ستونزمن دي ځکه هغوی د شهادت جذبه لري نو ځکه يې د فکري جګړې (Cold War) لاره غوره کړې ده.

**جاهل ذهنونه نه غواړي چي په حقایقو دي پوه شئ،**
**تړلي یا بندي سترګي نه غواړي چي څوک دي د دوي له مخونو پوښونه یا نقابونه لري کړي،**
**رمه یا پسونه د هر هغه چا څخه ډیره کرکه لري څوک چي غواړي دوي بیداره کړي.**
**(وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا...) (البقره: 217)**
**ژباړه : او دوی (کفار) به تل له تاسو سره جنګیږي ترڅو که یې وس ورسیږي تاسو له خپل دین څخه واړوي.**
**دا ایت ثابتوي چې د کفارو جګړه یوازې د خاورې لپاره نه ده بلکې د عقیدې د بدلولو لپاره ده.**

**د لویدیځ له کلتور څخه د پیروۍ په اړه رسول الله ﷺ فرمایلي دي : (لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ، حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ لَتَبَعْتُمُوهُمْ) (صحیح بخاري)**

**ژباړه : تاسو به خامخا د خپلو مخکینیو (یهودو او نصاراوو) په لاره ځئ ، لویشت په لویشت او ګز په ګز ، تر دې چې که هغوی د کربوړي غار ته هم ننوځي تاسو به ورپسې ننوځئ.**

**دا حدیث په دقیق ډول د نننۍ زمانې روند تقلید انځوروي چې مسلمانان د فیشن ، رسنیو او کلتور په برخه کې له کفارو اغیزمن شوي دي.**

# 1. د رسنیو جادو او ذهني کنټرول:

رسنۍ یوازې د خبرونو یا ساعت تیرۍ وسیله نه ده بلکې دا یو ذهني زندان دی چې کفري نړۍ یې د مسلمانانو د فکر بدلولو لپاره کاروي،

دوی د تکرار (Repetition) له تاکتیک څخه کار اخلي کله چې یو غلط کار په فلمونو او ډرامو کې سل ځله تکرار شي نو د انسان ذهن ته هغه نور بدی نه ښکاري بلکې یو عادي کلتوري عمل ورته ښکاري.

نن سبا رسنۍ (تلویزیون ، انټرنیټ او ټولنیزې شبکې) د هغو وسلو په څیر کارول کیږي چې په مستقیم ډول د مسلمانانو کورونو ته ننوځي،

د هالیوډ فلمونه او لویدیځي ډرامې په ډیر مهارت سره داسې ژوند انځوروي چې په هغه کې حیا او عفت د پخوانۍ زمانې او تورو تمبو په نوم یادیږي،
بې حجابي او د اخلاقي حدودو ماتول د آزادۍ او پرمختګ نښه بلل کیږي،
دا یوه لویه دسیسه ده ترڅو مسلمان د خپل دیني کلتور څخه شرم احساس کړي او د لویدیځ کلتور په پټو سترګو تقلید کړي.
په ډیرو مشهورو فلمونو کې داسې کرکټرونه ځای پر ځای شوي چې ظاهراً اتلان ښکاري خو په اصل کې د اسلامي عقیدې ضد پیغامونه خپروي،
مثال : په فلمونو کې ساحر یا جادوګر ته د یو ژغورونکي په سترګه کتل کیږي حال دا چې په اسلام کې سحر کفر دی،

دوی غواړي په ماشومانو کې د غیبي مرستې (الله تعالی) پر ځای په جادو او باطلو قوتونو باور پیدا کړي.

د اسلاموفوبیا خپرول : په لویدیځو رسنیو کې تل یو بږیرور مسلمان د ترهګر یا ظالم په توګه ښودل کیږي خو برعکس یو بې دینه کس د مهربان او انساني خواخوږۍ د سمبول په توګه وړاندې کیږي،

دا یو رواني جنګ دی ترڅو مسلمان ځوان پخپل دین پسې وشرمیږي.

مثال : په ټولنیزو رسنیو ټیک ټاک او انسټګرام کې داسې ټرینډونه جوړیږي چې په هغې کې د حیا پردې څیرې کیږي،

**د نړۍ په ګوټ ګوټ کې نجونې او هلکان په داسې سیالیو کې بوخت ساتل کیږي چې د هغوی ټول وخت او اخلاق تباه کوي، تر څو هغوی د کفر د تباهۍ په اړه فکر کولو ته وزګار نشي.**

## 2. د تعلیمي نصابونو بدلون:

**کفار هڅه کوي چې په اسلامي هیوادونو کې تعلیمي نصاب داسې عیار کړي چې په هغې کې د جهاد ، ولاء او براء**

**(له کفارو سره د دوستۍ او دښمنۍ حدود) او د اسلامي خلافت تاریخي ارزښتونه پیکه شي،**

**دوی غواړي داسې نسل وروزي چې نوم یې د مسلمان وي خو فکر یې په بشپړ ډول د لویدیځ په ګټه کار کوي،**

**دا تر ټولو خطرناکه دسیسه ده ځکه دا د مسلمانانو راتلونکی نسل په نښه کوي هغوی پوهیږي چې که یو ماشوم له لومړي صنف څخه د هغوی په خوښه وروزل شي نو هغه به په شل کلنۍ کې د کفري نظام یو سرتیری وي که څه هم نوم به یې احمد یا محمود وي.**

**د سیکولرزم پیچکاري کول : په ډیرو اسلامي هیوادونو کې د نړیوالو ادارو لکه (UNESCO) تر فشار لاندې داسې نصابونه جوړیږي چې ساینس او دین یو له بل څخه جلا ښیي،**

**دوی غواړي دا ذهنیت رامنځته کړي چې دین یوازې د جومات او مدرسي لپاره دی او د ژوند په نورو چارو لکه:**

**(سیاست ، اقتصاد ، تعلیم) کې دین ته اړتیا نشته.**

**د تاریخ مسخه کول : په تعلیمي کتابونو کې د اسلامي فاتحینو (لکه خالد بن ولید ، صلاح الدین ایوبي او سلطان محمد فاتح) تاریخ پیکه ښودل کیږي او پر ځای یې د لویدیځو استعمارګرو او فلسفیانو صفتونه کیږي،**

**دوی غواړي چې مسلمان ماشوم د خپل تیر ویاړلي تاریخ پر ځای د لویدیځ په تاریخ وویاړي.**

## 3. د اصطلاحاتو لوبه :

**دوی ځینې داسې کلمې رامنځته کړي چې په ظاهر کې ښکلې خو په اصل کې د اسلامي ارزښتونو د تخریب لپاره دي:**

**ټولنیز عدالت او مساوات : کله ناکله د دې تر شا د اسلامي کورنۍ نظام د پاشلو هدف وي.**

**بشرپالنه (Humanism) : د دې په وسیله هڅه کیږي چې د انسان قانون د الله تعالی له قانون څخه پورته وګڼل شي.**

## 4. د تفریح په نوم زهر:

**لوبې (Games) او مشهور ایپس (Apps) داسې ډیزاین شوي چې مسلمان ځوانان په عبثو کارونو کې بوخت وساتي د دوی هدف دا دی چې زموږ ځوانان د علم ، فکر او تدبر پر ځای په خیالي نړۍ او بې ګټې سیالیو کې خپل وخت ضایع کړي تر څو د امت د درد احساس ورسره پاتې نشي.**

**ټولنیزې رسنۍ په تیره بیا ټیک ټاک شهواني غرایزو او بې شرمي ته وده ورکوي چې د بد اخلاقي لپاره یوهستره دجالي وسیله ده،**

**د الله تعالی د یاد او اطاعت څخه غفلت ، د زړه توروالي ، فکري نا ارامۍ ، نفسي خپګان او اختلافات ، او د کورنۍ نظام پاشل ، د فاسقانو تر شعار لاندي تلل د نفساني عزت داغول او بلاخره د ناخبرو لپاره یو لوی دام ده مخکي له دي چي په دي دام کي تر غرقیدو ډوب شي ځان او کورنۍ مو وژغورئ.**

**(اَلهُمَّ اعَوْذُبِکَ مِنَ ذَالِکْ)**

**د رسنیو د اغیز موضوع خورا مهمه ده ځکه دا د دښمن د نرمې جګړې (Soft War) تر ټولو لومړۍ او اساسي کرښه ده،**

**دلته د رسنیو د اغیز په اړه لا زیات او ژور معلومات د مثالونو او شرعي نصوصو سره یو ځای لولو.**

**د رسنیو جادو : څنګه زموږ ذهنونه په غیر مستقیم ډول کنټرولیږي؟**

رسنۍ یوازې معلومات نه خپروي بلکې دا د انسان د تخیل او فکر د جوړولو فابریکه ده،
کفار د رسنیو له لارې لاندې تاکتیکونه کاروي ترڅو د مسلمانانو فکر بدل کړي:

**1. د عادي کولو تاکتیک (Normalization)**

دا د رسنیو تر ټولو خطرناکه وسله ده،
یو شی چې په اسلام کې حرام او په کلتور کې بد ګڼل کیږي رسنۍ یې په فلمونو او ډرامو کې دومره ډیر تکراروي چې د خلکو په نظر کې عادي شي،
مثال : کلونه وړاندې په ډرامو کې د نامحرمو سره ناسته ولاړه بد ګڼل کیدل خو نن سبا په ډیرو ډرامو کې دا د یو روښانفکره ژوند نښه ښودل کیږي،
کله چې یو ځوان دا منظر سل ځله وګوري د هغه په ذهن کې د حیاء هغه حساسیت مړ کیږي.
د نړۍ پټ رازونه

## 2. د اجنډا جوړولو تیوري
## (Agenda Setting)

رسنۍ تاسو ته دا نه وايي چې (څه فکر وکړه) بلکې دا درته وايي چې د (څه په اړه فکر وکړه) هغوی مهمې اسلامي موضوعګانې پټوي او په ټولنه کې بې ګټې جنجالونه لکه (د فیشن خپرونې ، د سینماګانو خبرونه او عبثې سیالۍ) په خورا مهمو خبرونو بدلوي.

مثال : کله چې په فلسطین یا بل اسلامي هیواد کې مسلمانان تر ظلم لاندې وي لویدیځې رسنۍ په هماغه وخت کې د یو مشهور لوبغاړي یا سندرغاړي شخصي ژوند په اړه بحثونه ګرموي تر څو د مسلمانانو پام له اصلي درد څخه واړوي.

**3. د پټو پیغامونو کارول**
**(Subliminal Messages)**

**ډیر ځله په کارتونونو او لوبو کې داسې نښې او کلمې په خورا چټکۍ سره تیریږي چې د انسان سترګې یې نه ویني خو شعور یې جذبوي،**

**دا پیغامونه ماشومان له اسلامي عقیدې لرې کوي او هغوی د مادي او کفري ارزښتونو منلو ته چمتو کوي.**

**4. د اتلانو بدلول (Hero Transformation)**

**رسنۍ هڅه کوي چې د مسلمانانو لپاره جعلي اتلان جوړ کړي،**

**د دې پر ځای چې زموږ ځوانان د صحابه کرامو او غازیانو په څیر میړني واوسي هغوی ته سندرغاړي ، ماډلان او د فلمونو اداکاران د کامیابو انسانانو په توګه وړاندې کوي.**

**شرعي حقيقت او د قرآن خبرداری:**
**الله تعالی په قرآن کریم کې د داسې خلکو په اړه چې په ټولنه کې فحاشي او غلط فکر خپروي سخت خبرداری ورکړی:**
**(إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ...) (النور: 19)**
**ژباړه : بیشکه هغه کسان چې دا خوښوي چې په مومنانو کې فحاشي او بدکاري خپره شي د هغوی لپاره په دنیا او اخرت کې دردناک عذاب دی.**
**رسنۍ نن سبا د فحاشۍ د خپرولو تر ټولو لویه وسیله ده،**
**دا ایت ثابتوي چې د رسنیو هغه مالکان او چلوونکي چې د مسلمانانو فکر خرابوي د الله له سخت عذاب سره مخ دي.**
د نړۍ پټ رازونه

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا...) (الحجرات: 6)
ژباړه : ای مومنانو که کوم فاسق تاسو ته کوم خبر راوړ نو ښه تحقيق پکې وکړئ.
لويديځې رسنۍ د اسلام په اړه تل فاسق خبرونه خپروي، مسلمان بايد د هغوی په هر خبر باور ونه کړي بلکې خپل فکري بصيرت وکاروي.
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : (مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ) (ترمذي)
ژباړه : د يو انسان د اسلام ښکلا په دې کې ده چې بې ګټې او عبث شيان پريږدي.
رسنۍ زموږ ډېر وخت په داسې شيانو ضايع کوي چې نه يې دنيا ته ګټه شته او نه اخرت ته د دې پريښودل د ايمان تقاضا ده.
د فلمونو او موسيقۍ له لارې د ذهنونو بدلول:

## 1. د ارواپوهنې له نظره
## (Psychological Impact)

**ارواپوهان وايي چې کله انسان فلم ګوري يا موسيقي اوري د هغه ذهن له ارادي حالت څخه تلقيني حالت ته ځي،**

**په دې وخت کې د انسان دفاعي سيسټم کمزورى وي او هر هغه پيغام چې ورته ورکول کيږي په اسانۍ سره يې مني.**

**د احساساتو له لارې کنټرول : فلمونه د غمجنو يا هيجاني صحنو په وسيله ستاسو احساسات کنټرولوي،**

**کله چې تاسو له يو منفي کرکټر سره په فلم کې خواخوږي پيدا کړئ ستاسو ذهن د هغه بد اخلاق هم په غير شعوري ډول مني.**

**تکراري تلقين : په موسيقۍ کې د کلمو تکرار او د هغې ريتم د انسان په ذهن کې نشې ته ورته حالت پيدا کوي،**
**دا کار د دې لامل کيږي چې د سندرو زهرجن پيغامونه لکه:**
**( د بې حيايۍ ترويج يا له دينه لرې والی) په مستقيم ډول ستاسو حافظې ته ننوځي.**
**د حقيقت مسخه کول : فلمونه خيالي نړۍ دومره ښکلې ښيي چې انسان ته خپل واقعي ژوند خپل کور او خپلې ديني پولې تنګې او بد رنګه ښکاري چې دا په ټولنه کې د رواني ناروغيو او ناخوالو لومړنی ګام دی.**
**2. د فلمونو او موسيقۍ تر شا دسيسې:**
**کفار فلمونه يوازې د ساعت تيرۍ لپاره نه جوړوي بلکې هغوی ځانګړې موخې لري:**

**د قدوت (Idol) بدلول : دوی غواړي چې د صحابه کرامو او تاریخي اتلانو پر ځای د فلمونو اداکاران او سندرغاړي د ځوانانو الګو او اتلان واوسي.**

**د حرامو ښکلي کول : په فلمونو کې د شرابو څښل ، قمار او نامحروع اړیکې د لوړ کلتور او کامیاب ژوند په توګه انځورول کیږي ترڅو د مسلمانانو له زړونو د ګناه ویره ووځي.**

**3. شرعي دلایل (قرآن او حدیث):**

**اسلام موږ ته د غوږونو او سترګو د ساتنې ډیر سخت حکم کړی دی ځکه دا د زړه دروازې دي،**

**(وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ...) (لقمان: 6)**

**ژباړه : او ځینې خلک داسې دي چې بې ګټې او لغوه خبرې (لهو الحدیث) اخلي ترڅو خلک د الله له لارې څخه په ناپوهۍ سره بې لارې کړي.**

**ډيرو مفسرينو لکه (ابن عباس رض) د لهو الحديث څخه مراد موسيقي او سندرې اخيستې دي چې د انسان فکر له حق څخه اړوي.**

**(إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا) (الاسراء: 36)**

**ژباړه : بيشکه غوږ ، سترګه او زړه له دې ټولو څخه به د (قيامت په ورځ) پوښتنه کيږي.**

**دا ايت ثابتوي چې موږ نشو کولی هر فلم وګورو يا هر ډول موسيقي واورو ځکه دا زموږ په زړه او فکر مستقيم اغيز کوي او الله ته يې ځواب ورکوونکي يو.**

**په يوه بل روايات کې راغلي : (الغناءُ يُنبتُ النفاقَ في القلبِ کما يُنبتُ الماءُ الزرعَ)**

**ژباړه : موسيقي په زړه کې نفاق داسې شنه کوي لکه اوبه چې کښت شنه کوي.**

**کله چې يو څوک په موسيقۍ روږدي شي د هغه په زړه کې د قرآن عظمت کميږي او د نفاق (دوه مخي) نښې پکې پيدا کيږي،**
**ځکه د قرآن مينه او د موسيقۍ مينه په يو زړه کې نه يوځای کيږي.**

**د خلاصون لاره (ارواپوهنيزه مشوره):**

**که غواړئ خپل ذهن له دې اغيزو وژغورئ اروپوهنه وړانديز کوي چې:**

**فکري ډيټوکس (Detox) : د يوې مودې لپاره له فلمونو او موسيقۍ لرې شئ تر څو ستاسو اعصاب بيرته ارامه او طبيعي حالت ته راشي.**

**بديل موندل : د بې ګټې فلمونو پر ځای مستند فلمونه (Documentaries) وګورئ او د موسيقۍ پر ځای د قرآن کريم تلاوت او ګټور بيانات واورئ.**

# د محتوا انتخاب : مخکې له دې چې یو څه وګورئ له ځانه وپوښتئ دا زما ایمان او فکر ته څه ګټه رسوي؟

# 2. فصل :

## اقتصادي لومه او د عصري سود دسيسې

د انلاين سودي كاروبارونو او بانكي سيستمونو په اړه چې كومه ويره شتون لري اسلام يې په اړه خورا سخت دريځ لري،
(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ...)
(البقره: 278-279)

ژباړه : ای مومنانو له الله څخه وویرېږئ او کوم سود چې پاتې دی هغه پرېږدئ که تاسو مومنان یئ، که داسې مو ونه کړل نو د الله او د هغه د رسول له لوري د جګړې اعلان واورئ.

نن سبا چې په اسلامي نړۍ کې کوم اقتصادي ذلت او بې برکتي ده علت یې دا دی چې موږ د کفارو په جوړ شوي سودي نظام کې ښکیل شوي یو او له الله سره په جګړه بوخت یو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :

(الْحَلالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ) (صحیح مسلم)

ژباړه : حلال ښکاره دي او حرام هم ښکاره دي،

خو د دواړو ترمنځ ځینې شکمن شیان دي چې ډېر خلک پرې نه پوهیږي نو چا چې له شکمنو شیانو ځان وساته خپل دین او عزت یې وژغورل.

ډېر انلاین کاروبارونه چې ظاهراً ګټه بښکاري خو حقیقت یې پټ وي په همدې مشتبهاتو کې راځي چې مسلمان باید ترې ځان وساتي.

(لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ، وَكَاتِبَهُ، وَشَاهِدَيْهِ، وَقَالَ: هُمْ سَوَاءٌ) (صحيح مسلم)

ژباړه : رسول الله ﷺ پر سود خوړونکي ، سود ورکوونکي ، د سود پر لیکونکي (محاسب) او د سود پر شاهدانو لعنت کړی او ویې فرمایل چې دا ټول په ګناه کې برابر دي.

دا حدیث ثابتوي چې که څوک په بانک کې کار کوي یا د انلاین سودي ایپسونو تبلیغ کوي یا یې حساب کتاب ساتي ټول په دغه لویه ګناه کې شریک دي،

په پخوا وختونو کې استعمار د هیوادونو په خاوره قبضه کوله ، خو نن سبا د هیوادونو پر جیبونو او شتمنیو قبضه کیږي،

کفري نړۍ یو داسې نړیوال اقتصادي سیسټم جوړ کړی چې یو مسلمان که وغواړي او که ونه غواړي په یو نه یو ډول په کې د سود (Riba) له غبار سره مخ کیږي.

## 1. د انلاین کاروبارونو په نوم د سود نوی پړاو:

په اوسنۍ زمانه کې کفار د ټیکنالوژۍ له لارې داسې انلاین پلیټ فارمونه رامنځته کړي چې په ظاهره د تجارت او ګټې وټې نوم ورته ورکوي خو په حقیقت کې مطلق سود او قمار دی.

**د پانګونې جعلي ایپس (Investment Apps):**

نن سبا په ټولنیزو رسنیو کې داسې ایپس (Apps) تبلیغ کیږي چې وایي: زر ډالره واچوئ او هره ورځ شل ډالره ګټه واخلئ،

دا په اصل کې د سود یو پټ شکل دی ځکه په اسلامي تجارت کې د ګټې فیصدي (Percentage) نه وي ټاکل شوې بلکې ګټه او تاوان دواړه په کې وي،

**دوی مسلمان ځوانان په دې روږدي کوي چې پرته له زحمته ثابته ګټه ترلاسه کړي چې دا د سود تعریف دی.**

**ډیجیټل مارکیټینګ او د هرمي سیستمونو (Pyramid Schemes) دسیسه:**

**ډیر انلاین کاروبارونه داسې ډیزاین شوي چې ته باید خلک ورته پیدا کړې او د هغوی له پیسو تاته کمیشن درکوي،**

**دا په اصل کې د نورو د مال په ناحقه خوړل او یو ډول عصري قمار دی چې د مسلمانانو د وخت او سرمایې د ضایع کولو لپاره جوړ شوي دي.**

**2. سودي نظام : د امت د ذلت وسیله**

**نړیوال بانک (World Bank) او د پیسو نړیوال صندوق (IMF) د هغو وسلو په څیر دي چې اسلامي هیوادونه په داسې پورونو کې ښکیلوي چې هیڅکله یې خلاصون ممکن نه وي.**

**د سود په پورونو د هیوادونو کنټرول :کله چې یو اسلامي هیواد له دوی څخه پور اخلي هغوی د سود په بدل کې نه یوازې پیسې اخلي بلکې خپل شرطونه هم پرې مني،**

**هغوی وایي : موږ پیسې درکوو خو تاسو به خپلې مذهبي مدرسې بندوئ په نصاب کې به بدلون راولئ او زموږ کلتور ته به اجازه ورکوئ دا هغه نقطه ده چې اقتصاد په مستقیم ډول زموږ په عقیده برید کوي.**

مثال : که یو هیواد یو ملیارد ډالره پور واخلي د لوړ سود له امله مجبور دی چې دري ملیارده بیرته ورکړي،
دا پیسې د ملت د غریبو خلکو د ټیکسونو له لارې پوره کیږي، چې په پایله کې ملت غریب پاتې کیږي او د کفارو محتاج وي.
**3. د اسعارو (Currency) په بیو کې لاسوهنه:**
کفار د ډالرو په وسیله د نړۍ د نورو هیوادونو د پولي ارزښت کنټرول په لاس کې لري یعني کله چې هغوی وغواړي یو اسلامي هیواد له اقتصادي بحران سره مخ کړي د هغوی د پیسو ارزښت راغورځوي،
دا یوه لویه دسیسه ده ترڅو مسلمانان تل په فقر او محتاجۍ کې وساتل شي ځکه په فقر کې د انسان ایمان ډیر ژر له خطر سره مخ کیږي.
**4. د اعلاناتو له لارې د اسراف کلتور:**

**كفري كمپنيو د مسلمانانو ذهنونه داسې جوړ کړي چې تل د نويو شيانو په رانيولو پسې منډې وهي (لکه هر کال نوی موبايل ، نوي کالي او غير ضروري شيان) دا د مصرفيزم (Consumerism) دسيسه ده.**

**مثال : کله چې يو څوک د نوي موبايل د رانيولو لپاره پيسې نه لري بانک ورته وايي: موږ يې په قسطونو درکوو دا قسطونه په اصل کې سودي معامله وي،**

**په دې ډول دوی مسلمان د ټول عمر لپاره د پورونو او سود په ځنځيرونو کې تړي تر څو هغه يوازې د خپلو پورونو د خلاصولو په غم کې وي او د امت د بيدارۍ لپاره فکر ونه کړي.**

**ویښ اوسه ...!**

**دا یوازي ډیجیټل پیسي نه دي دا یوه دجالي پروژه ده چي د عقل نه مخکي یي انسانان د دام ښکار کیږي،**

**انلاین فلیټ فارمونه نه لیدل کیږي نه لمس کیږي نه یي تر شا روښانه مسول شته یوازي قمار ، ابهام او غرر،**

**اسلام د همدي دری واړو پر ضد جنګ اعلان کړي.**

**د نړۍ ټول نظامونه ، بانکونه ، ډیجیټل کرنسي ټول د یوه سیستم لپاره کار کوي،**

**ډیر ژر به د کاغذي پیسو ځاي ډیجیټل کرنسي ونیسي او ستا رزق به په یوه سکرین پوري تړلي وي او ته به د سیستم یوه برخه وګرځي،**

**ډیجیټل کرنسي نن بازار کنټرولوي خو یو وخت به انسانان کنټرولوي.**

**د نړۍ پټ رازونه**

**پایله:**

**کفار غواړي مسلمانان داسې ذلیل کړي چې د هغوی هره ګړی هر نواله او هر تجارت له سود سره ککړ وي،**

**الله تعالی په قرآن کې د سود خوړونکو په اړه د جګړې اعلان کړی دی او کفار پوهیږي چې که یو امت له الله سره په جګړه کې وي هغه امت کله هم نه بریالی کیږي او نه هم د هغوی په منځ کې برکت پاتې کیږي.**

# 3. فصل :

## د خوراک او روغتیا په نوم دسیسې (بیولوژیکي جګړه)

**هغه پټه جګړه چې زموږ د دسترخوان او بدن د سلامتیا په وړاندې روانه ده،**
**هغوی پوهیږي چې یو ناروغه او کمزوری امت نشي کولی د هغوی د پلانونو مقابله وکړي.**
**کفار یوازې زموږ فکر نه خرابوي بلکې غواړي زموږ فزیکي قوت هم له منځه یوسي،**
**هغوی د خوراکي توکو ، درملو او واکسینونو له لارې د مسلمانانو روغتیا په نښه کړې ده.**

**1. د خوراکي توکو په وسیله د نسلونو کمزوري کول:**

**نړیوالې لویې کمپنۍ داسې خوراکي توکي تولیدوي چې په ظاهره خوندور خو په حقیقت کې د انسان د معافیت سیسټم (Immune System) تباه کوي.**

**کیمیاوي مواد او خوندورونکي: په ډیرو بسته بندي شویو خوراکونو ، انرژي ، مشروباتو او فاسټ فوډ کې داسې کیمیاوي مواد کارول کیږي چې په ماشومانو کې د ذهني کمزورۍ او په ځوانانو کې د بیلابیلو سرطاني ناروغیو لامل ګرځي.**

**ترمیم شوي جنټیکي توکي (GMO): کفار د هغو تخمونو تبلیغ کوي چې جنټیکي بدلون په کې راغلی وي،**

دا تخمونه که څه هم ډېر حاصل ورکوي خو د انسان په بدن کې د هورمونونو توازن خرابوي چې په پایله کې په اسلامي ټولنو کې د اولاد نه کیدو (عقامت) ستونزې ورځ تر بلې زیاتیږي،
دا د مسلمانانو د نفوس کمولو یوه ډېره پټه دسیسه ده.

**2. د درملو مافیا او د تلپاتې ناروغیو تجارت:**

د لویدیځ لویې درمل جوړونکي کمپنۍ (Big Pharma) د داسې درملو په جوړولو تمرکز کوي چې ناروغي په بشپړ ډول نه ورکي کوي بلکې انسان د عمر تر پایه په ځان پورې تړلی ساتي.

د درملو سوداګري: هغوی د داسې درملو تبلیغ کوي چې یو درد ارامومي خو بل ځای کې د بدن یو غړی خرابوي،

**د دوی هدف دا نه دی چې خلک روغ شي بلکې هدف يي دا دی چې خلک بايد تل ناروغان وي ترڅو د دوی درمل وپلورل شي.**

**مشکوک واکسينونه او تجربې: تاريخ ښودلې چې په ځينو افريقايي او اسلامي هيوادونو کې د واکسينونو په نوم داسې تجربې شوي چې وروسته ثابت شوي چې د هغو په وسيله په خلکو کې د ناروغيو مقاومت کم شوی يا د زيږون وړتيا اغيزمنه شوې ده.**

**د پوليو واکسين په شاتو کي زهر:**

**د چټکي او پرمختللي نړۍ په ورستيو پړاوو کي کفري نړۍ د تخنيک او ټکنالوژي له وسائلو د مسلمه اُمت د نابودی او بربادۍ لپاره هر ډول ناوړه دسيسي رواني کړي دي،**

له (1985) كال راهيسي يونيسيف (unicef) نړيواله اداره د روغتيا په موخه په ميلياردونو ډالره پر پوليو واكسين باندي مصرفوي خو د كومي موخي لپاره او هغه هم خاص اسلامي هيوادو كي؟

د اروپا يوه روغتيايي سائنسي ډله زياتوي چي د انسان په ژوندۍ مادو كي داسي خاصيتونه شته چي د انسان په نارينه او ښځينه فطرت كي تغير راوستلاي شي يعني د نر خاصيت په ښځينه خاصيت او د ښځينه خاصيت په نارينه باندي بدلولاى شي،

چي بيا د دي ټكر په نتيجه كي د نر ښځي ( هجړا ) ماده په انسان كي وده كوي او نر ښځي ماشوم رامنځ ته كيږي،

تاسي فكر وكړي له پاكستان پرته مو نورو هيوادو كي هجړاګان ليدلي؟

د نړۍ پټ رازونه

**دا د دي پوليو واکسينو برکت ده چي تر هر بل ملک څخه زيات په پاکستان کي زيات جبري دي، لومړني هيواد پاکستان ده چي د پوليو واکسين پروسه له (1985) کال راهيسي پکي روانه ده تاسي هم مه خپه کيږي ډير ژر به ستاسي ميندي هم هجړاګان وزيږوي خو دا پروسه يو څه مخکي په پاکستان کي شروع وه،**

**يو بل برکت د پوليو واکسينو داده چي ډير وخت په جنسي غرايضو منفي اثر کوي**

**لکه : ماشوم ډير ژر په کم عمر کي بلوغ ته رسوي چي دا مهال يي عقل خام خو جنسي غرائض يي ډير فعال او نه کنټروليدونکي وي او په راتلونکي انساني ټولنه کي د حياء او فکر کولو ځواک ختموي او نر ماشوم د ښځينه غوندي فطرت په ورزياتولو سره ډارن ، بې حياء ، بې غيرته جوړوي،**

د نړۍ پټ رازونه

لکه د پاکستان خلک خو تاسي هم مه خپه کیږي دا پروسه په پاکستان کي یو څه مخکي شروع وه راتلونکي نسل به ستاسي هم همداسي ( هجړاګان ، ډارن ، بې حیاء ، بې غیرته او بلاخره ښځینه فطرت به تر ټولو اعلا درجه کي وي )

اوس دوي غواړي چي یاد واکسین په نورو مشروباتي او خوراکي توکو کي هم وکاروئ تر څو یي د مخنیوي لاري تعقیب نشي.

ټول اسلامي هیوادونه د دي وائروس په برخلیک اخته دي او د دجال پروژه مخ په وړاندي روانه ده چي بلاخره به زموږ د نسلونو ذهنونه لا دوي کنټرولوي،

**عقل په کار واچوه په غزه کې هره ورځ په زرګونو ماشومان له لوږې او تندې مري خو د پولیو واکسین یو څاڅکي چې تر دوې ورسوي په ملیاردو پیسي پرې مصرفوي ایا دا ښیګڼه ده؟**

**وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ.**

**3. د حرامو اجزاوو ګډول:**

**دا د کفارو یوه ډیره سپکه دسیسه ده هغوی په خوراکونو ، چاکلیټونو او حتی درملو کې د خنزیر له غوړیو (Gelatin) یا د هغو له هډوکو څخه جوړ شوي مواد ګډوي،**

**د دې کار هدف دا دی چې د مسلمانانو په بدن کې د حرامو مړی داخله شي ځکه کله چې بدن په حرامو تغذیه شي نو له هغه انسان څخه د حق د دفاع او د شجاعت جذبه اخیستل کیږي.**

**شرعي دلایل او لارښوونې:**

دې دسيسو ته په کتو اسلام موږ ته د پاک خوراک او د ځان ساتنې ډير ټينګ حکم کړی دی،

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ) (البقره: 168)

ژباړه : ای خلکو له هغه څه څخه چې په ځمکه کې دي، حلال او پاک (طيب) خوری او د شيطان په قدمونو پسې مه ځئ بيشکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دی.

الله تعالی يوازې د حلال کلمې په ويلو بسنه نه ده کړې بلکې د طيب (پاک او ګټور) لفظ يې هم راوړی،

ډير شيان ښايي حلال وي خو که پکې کيمياوي زهر وي هغه طيب نه دي او مسلمان يې بايد له خوړلو ډډه وکړي.

رسول الله ﷺ فرمايلي : (كُلُّ جَسَدٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ) (صحيح الجامع)

ژباړه : هر هغه بدن چې له حرامو څخه غوښه اخيستې وي (تغذيه شوی وي) نو اور ورته ډېر مستحق دی.

کفار پوهيږي چې د حرامو خوراک د انسان دعاګانې ردوي او ايماني بصيرت ترې اخلي نو ځکه يې زموږ په خوراکونو کې حرام ګډ کړي دي.

رسول الله ﷺ فرمايلي : (الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ) (صحيح مسلم)

ژباړه : قوي مومن د الله په وړاندې تر کمزوري مومن غوره او ډېر خوښ دی.

**د کفارو هڅه دا ده چې مسلمانان په ناروغيو او کمزوريو کې مبتلا کړي ترڅو د جګړې او مقاومت توان ونلري نو د خپلې روغتيا ساتنه د امت د قوت لپاره يو ديني مسئوليت دی.**

# 4. فصل:

## د پټو سازمانونو رول

## (ماسونیت او صهیونیزم)

**په نړۍ کې ډیر داسې بدلونونه راځي چې موږ یې یوازې پایلې ګورو خو د هغو تر شا د پټو سازمانونو اوږد مهاله پلانونه وي،**
**د دې سازمانونو په سر کې ماسونیت (Freemasonry) او صهیونیزم قرار لري،**
**ټول سیستم داسې ډیزاین شوي چې ستا له فطري درک احساس او وجدان څخه دي جلا کړي،**
**ولې؟**
**ځکه چې جلا شوي خلک اسانه کنټرولیږي،**

فطري درک هغه باطني او طبيعي احساس دي چي انسان ته پرته له فکر کولو کولو د یو شي د صحیح یا ناسم والی احساس ورکوي،
دا یو ډول دروني رڼا یا پوهاوي دي چي مرسته راسره کوي حق له باطله وپيژنو،
په ساده ډول کله چي ته له خپل زړه ، وجدان او دروني رڼا سره ارتباط له لاسه ورکړي نو نور خلک کولای شي تا په اساني سره غلط کړي ، دوکه دي کړي ، تاته غلط معلومات درکړي او ستا پر پریکړو باندي اغیز ولري،
دا د انسان د کنټرول تر ټولو اسانه لار ده.

## 1. فری ماسونري (ماسونیت) څه شی دی؟

ماسونیت یو پټ نړیوال سازمان دی چې د یهودیت له فکر څخه سرچینه اخلي،
د هغوی هدف د یو نوي نړیوال نظم

**(New World Order) رامنځته کول دي چې په هغه کې دیني ارزښتونه په ځانګړي ډول اسلام له منځه لاړ شي.**

**د نښو او سمبولونو کارول : ماسونیان په خپلو پلانونو کې له ځانګړو نښو کار اخلي لکه: ( یو سترګه ، هرم ، او پرګار)**

**نن سبا دا نښې د هالیوډ په فلمونو ، مشهورو کارتونونو او حتی د ډالر په نوټ کې په شعوري ډول ځای پر ځای شوي تر څو د خلکو ذهنونه د هغوی تر اغیز لاندې راشي.**

**په سیاستوالو نفوذ : دوی هڅه کوي د نړۍ په مهمو هیوادونو کې خپل غړي د واک لوړو چوکیو ته ورسوي ترڅو پریکړې د هغوی په ګټه وشي.**

## 2. صهيونيزم او د قدس نيول:

**صهيونيزم يو سياسي او مذهبي تحريک دی چې هدف يې د بيت المقدس (مسجد الاقصی) نيول او هلته د ديکلي سليمان (هيکل سليمان) په نوم د يو معبد جوړول دي.**

**د اسلامي نړۍ کمزوري کول : صهيونيزم پوهيږي چې تر څو مسلمانان يو موټی وي هغوی خپل هدف ته نشي رسيدلی،**

**نو ځکه دوی د مسلمانانو ترمنځ مذهبي ، قومي او ژبني اختلافات پيدا کوي ترڅو موږ پخپله په خپلو منځونو کې وجنګيږو او هغوی ته ميدان خالي پاتې شي.**

## 3. د نړيوالو بانکونو او رسنيو کنټرول:

**ماسونيان او صهيونيستان د نړۍ تر ټولو لويې رسنۍ لکه ( CNN, BBC, Hollywood ) او تر ټولو لوی بانکونه په لاس کې لري،**

کله چې رسنۍ ستا په لاس کې وي ته کولای شې باطل په حق او ظالم په مظلوم بدل کړې،
کله چې اقتصاد ستا په لاس کې وي ته کولای شې هر هغه حکومت راوپرځوې چې ستا د ګټو پر ضد وي.

شرعي دلایل او د حل لار:

د دې پټو دښمنانو د مکر او فریب په اړه الله تعالی او رسول الله ﷺ موږ ته داسې خبرداری راکړی دی:

(وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (النمل: 50)

ژباړه : او هغوی (دښمنانو) یو پټ مکر او تدبیر وکړ او موږ هم یو تدبیر وکړ په داسې حال کې چې هغوی نه پوهیدل.

**که څه هم د هغوی پلانونه ډیر دقیق او پټ دي خو مسلمان باید پوه شي چې د الله تعالی له نصرت او تدبیر څخه لوړ هیڅ شی نشته د هغوی مکر هغه وخت ماتیږي چې مسلمانان بیدار شي.**

**رسول الله** صلى الله عليه وسلم **فرمایلي: (مَا بُعِثَ نَبِيٌّ إِلَّا أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الأَعْوَرَ الكَذَّابَ» (صحيح بخاري)**

**ژباړه : هیڅ یو نبي نه دی رالیږل شوی مګر دا چې خپله امت یې له هغه یو سترګي درواغجن (دجال) څخه ویرولی دی.**

**ماسونیت او صهیونیزم د دجال لپاره د لارې هوارونکي دي،**

**د هغوی تر ټولو مشهور سمبول یوه سترګه ده چې د دجال نښه ده دوی غواړي نړۍ د یو داسې نظام منلو ته چمتو کړي چې په هغه کې د الله تعالی پر ځای د دجالي قوتونو بنده ګي کیږي.**

# 5. فصل:

# د ویش سیاست (قوم ، ژبه او مذهب)

**دا یو له خورا دردناکو خو مهمو بحثونو څخه دی،**
**کفارو د تفرقه واچوه او حکومت وکړه (Divide and Rule) سیاست له لارې د مسلمانانو په ځانګړي ډول د افغانانو قوت په وړو وړو برخو وویشه،**
**کله چې یو دښمن نشي کولی یو ملت په مخامخ جګړه کې مات کړي نو هغوی د مایکروسکوپي ویش تاکتیک کاروي،**

**يعنې يو واحد ملت په داسې ووړو برخو ويشي چې په پای کې هر فرد يوازې د خپل ځان يا خپلې وړې ډلې لپاره فکر کوي او د امت لويه داعيه هيروي.**

**1. د ويش پړاوونه (له ملت څخه تر خيل پورې)**

**کفارو په افغانستان کې داسې ذهنيت جوړ کړی چې يو انسان خپل هويت په داسې ډول تعريفوي چې هغه له نورو جلا کړي:**

**قومي ويش : لومړی يې ملت په پښتون ، تاجک ، هزاره ، ازبک ....! وويشه.**

**سيمه ييز ويش : بيا يې پښتون په پکتياوال ، کندهاري ، ننګرهاري ....! وويشه.**

**قبيلوي ويش : بيا يې پکتياوال په ځدراڼ ، منګل ، طوطاخيل ....! وويشه.**

**خيل او کورنۍ : بيا يې طوطاخيل په کندرخيل او نورو ... وويشل.**

دا ما تاسو ته د خپل ولايت او خپلي سيمي د ويش مثال راوړ،
د افغانستان د ټولو ولايتو او سيمو خلک په داسي ډلو ويشل شوي،
مخکي له دي چي د سيسټم برخه شي او د کفارو روبوټ وګرځي او د هغوي لخوا کنټرول شي قوم پرستي او تعصب پريږدي.
کله چې يو انسان خپل ټول فکري تمرکز يوازې پر خيل او قوم کړي هغه د دښمن لپاره تر ټولو اسانه ښکار وي،
ځکه هغه نور د يو لوی اسلامي امت د غړي په توګه فکر نه کوي.
2. ژبه او مذهب د وسلې په توګه:
ژبه : کفار هڅه کوي ژبه چې د افهام او تفهيم وسيله ده د دښمنی په وسيله بدله کړي،

هغوی په شعوري ډول داسې بحثونه راپورته کوي چې مسلمانان د یو بل د ژبو سپکاوی وکړي.
مذهب او فرقه : هغوی د مسلمانانو ترمنځ کوچني فقهي اختلافات دومره لویوي چې د یو بل د تکفیر او وژنې پورې ورسیږي،
په دې ډول د مسلمانانو انرژي د دښمن پر ځای د یو بل په وړاندې مصرفیږي.
3. شرعي دلایل (د وحدت حکم او د تفرقې عذاب)
اسلام د جاهلیت هر ډول قومي او نژادي تعصب په کلکه رد کړی دی،

**(يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ...) (الحجرات: 13) ژباړه : ای خلکو موږ تاسو له يو نارينه او يوې ښځې پيدا کړي يئ او تاسو مو په قومونو او قبيلو وويشلئ ترڅو يو بل وپيژنئ؛ بيشکه د الله په وړاندې ستاسو تر ټولو عزتمن هغه دی چې پرهيزګار وي.**

**قوم او قبيله يوازې د پيژندنې لپاره دي نه د تفرقې او فخر لپاره.**

**(وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ...) (الانفال: 46)**

**ژباړه : او پخپلو منځونو کې شخړې مه کوئ که نه نو سست به شئ او ستاسو هيبت او قوت به له منځه لاړ شي.**

نن سبا چې مسلمانان د کفارو په وړاندې بې وسه دي علت يې دا دی چې زموږ قوت په خپلمنځي قومي او ژبنيو شخړو کې له منځه تللی دی.

رسول الله ﷺ د قومي تعصب په اړه فرمايلی:

(دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ) (صحيح بخاري)

ژباړه : دا (قومي تعصب) پريږدئ ځکه دا ډير بدبويه او مردار شی دی.

## 4. اروايو هنيزه شلنه

## (Psychological Analysis)

اروا پوهان د دغه ډول ويش سياست ته (Social Fragmentation) وايي، د دې تاکتيک هدف د انسان په ذهن کې د لاندې دريو حالتونو پيدا کول دي:

**د امنیت نشتوالی : کله چې یو څوک یوازې په خپل قوم تکیه کوي هغه له نورو ویره لري او دښمن د همدې ویرې څخه ګټه اخلي او مسلمانان یو د بل په وړاندې جنګوي.**

**ټیټ فکري ظرفیت : هغه ذهن چې په پکتیاوال او ننګرهاري ...! کې بند پاتې وي هغه هیڅکله نشي کولی د نړۍ په کچه د کفارو لویې دسیسې تحلیل کړي،**

**دښمن غواړي زموږ ذهنونه په کوچنیو مسایلو کې بوخت وساتي.**

**د هویت بحران : کفار غواړي مسلمان ته د اسلامي هویت پر ځای قومي هویت ورکړي ځکه اسلامي هویت انسان ته شجاعت او نړیوال لید ورکوي خو قومي هویت انسان محدود او کمزوری ساتي.**

**د خلاصون لاره :**

**موږ باید بیرته خپل اسلامي هویت ته راوګرځو، لومړی باید ځان ته مسلمان ووایو بیا افغان او نور هویتونه باید یوازې د پیژندنې لپاره وکاروو تر څو چې موږ د یو بل په قوم او ژبه پسې ګرځو کفار به زموږ پر شتمنیو واکمن وي.**

# 6. فصل:

# مټریکس (The Matrix)

# د شیطان پټ جال

**مټریکس (The Matrix) هغه اصطلاح ده چې د یو داسې سیستم لپاره کارول کیږي چې انسانان په ذهني ، اقتصادي او ټولنیز ډول غلامان ساتي پرته له دې چې هغوی پخپله پرې پوه شي.**
**راځئ چې دا موضوع په خورا ژوره او جالبو معلوماتو سره ولولو:**
**په فلمونو کې مټریکس یو خیالي سیستم دی،**

**خو په واقعي نړۍ کې مټریکس هغه ساختماني غلامي ده چې کفري نړۍ او پټو سازمانونو د انسانانو لپاره جوړه کړې ده،**
**دا یو داسې سیسټم دی چې ته پکې د یو (Battery) په څیر کارول کیږې ترڅو د هغوی نظام وچلیږي.**
**هر څومره چي ټکنالوژي پرمختګ کوي هغومره انسانیت دوکه کیږي،**
**د ساتني ، پرمختګ او اسانتیا یو هوښیار او سمارټ فریب چي په واقعیت کي دا زموږ د دوکه کولو ، کنټرول او نظارت لپاره و ډیجیټل عصر ته هڅوي.**
**مټریکس یعني له حق او آزادي څخه ډیر لري،**
**دوي موږ په ماټریکس کي ساتي تر څو هیڅ فکر ونکړو چي څه روان دي او څه تیریږي.**

او د دي سره دوي خپلي شومي موخي ، پټ پلانونه او خپلي دجالي پروژي مخته بيايي،
او په دي پوه شئ چي دوي همداسي نسل غواړي تر څو روزنه ورکړي له طبيعت څخه جلا نسل ، مصنوعي نسل ، بي خبره ، ضعيف ، وړوکي ، بې پرواه ، ناتوانه ، کم قوته او يو وروسته پاتي او غلام نسل.
د هر کس ذهن د هغه شخصي حريم دی،
ټول افکار او کړنې زموږ په واک او اختيار کي ندي زموږ ذهنونه په حقيقت کي د نفوذ او کنټرول لپاره خورا حساس دي،
دا ستاسي په لاس کي ځيرک موبايل داسي کنټرولونکي دي چي هيڅوک ورڅخه تيښته نه شئ کولاي،

مخکي له دي نه چي کنټرولونکي په نامحسوس ډول زموږ ذهنونه کنټرول او په واک کي واخلي له ماټریکس څخه وتښتئ،
د ډیرو خلکو د مغز مینځلو لپاره له دغه تخنیکه کار اخلي،
تاسي د بشپړ کنټرول لاندي يي،
ریموټ مو د دجال د لارویانو په لاس کي ده هغوي کولای شي هر لور ته مو په اساني کش کړي بې له کوم غبرګون څخه.

## 1. مېټريکس څه شی دی؟

مېټريکس د هغو قوانينو ، کلتورونو ، تعليمي سيسټمونو او اقتصادي لومو مجموعه ده چې ستا ذهن په يو محدود چوکاټ کې بندوي،

په مېټريکس کې بند انسان داسې فکر کوي چې هغه آزاد دی خو په حقيقت کې هغه يوازې د هغو انتخابونو ترمنځ ګرځي چې سيسټم ورته ټاکلي دي.

## 2. مېټريکس څنګه خلک کنټرولوي؟

د مېټريکس د کنټرول لارې چارې په لاندې ډول دي:

اقتصادي زندان : ته بايد د ټول عمر لپاره د پورونو ، سود او ماليات‌و په جاله کې بند واوسې،

مټريکس تاته وايي : قرض واخله ، نوی موټر واخله ، نوی کور واخله ترڅو ته مجبور شې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ د هغوی په کمپنیو او بانکونو کې کار وکړې او د سر پورته کولو وخت ونلرې.

تعليمي پروګرامينګ : له ماشومتوب څخه تاته داسې زده کړه درکول کيږي چې ته يوازې يو ښه کارګر جوړ شې نه يو آزاد فکر کوونکی،

مټريکس تاته پوښتنې کول نه ښيي بلکې يوازې د امر منل درښيي.

ټولنيز انجنيرينګ : د رسنيو له لارې ستا ذوقونه او غوښتنې کنټرولوي،

مټريکس پريکړه کوي چې ته کوم کالي واغوندې څه وخورې او پر څه باندې خوشحاله شې.

**3. شیطاني جاله او مټریکس:**

**د اسلامي لیدلوري له مخې مټریکس د شیطان هغه مکر دی چې انسان له خپل اصلي هدف (د الله بنده ګي) څخه باسي او په مادي لذتونو کې یې ډوبوي،**

**شیطان غواړي انسانان د یو بل په وړاندې په حسد ، رقابت او د دنیا په حرص کې دومره بوخت کړي چې هغوی د حق غږ وانه اوري.**

**4. شرعي دلایل او د حقیقت بیداري:**

**اسلام موږ ته د مټریکس له دې جادویي نړۍ څخه د وتلو لاره ښودلې ده،**

**(وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ)**

**(الحدید: 20)**

**ژباړه : او د دنیا ژوند نه دی مګر د تیر ایستنې (دوکې) کالي دي.**

**مټريکس په حقيقت کې همدا غرور يا دوکه ده، کله چې انسان پوه شي چې اصل ژوند دا نه دی هغه له مټريکس څخه لومړی ګام بهر ږدي.**
**الله تعالی فرمايلي دي : (وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ...) (الانعام: 116)**
**ژباړه : او که ته په ځمکه کې د ډيرو خلکو پيروي وکړې هغوی به دې د الله له لارې بې لارې کړي...**
**مټريکس د اکثريت لاره ده (فيشن ، سيکولرزم ، بې ديني) که ته غواړې له مټريکس ووځې بايد د ډيرو خلکو د ړوند تقليد پر ځای د الله لاره ونيسې.**
**رسول الله** صلی الله عليه وسلم **فرمايلي دي : (كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ) (صحيح بخاري)**
**ژباړه : په دنيا کې داسې اوسه لکه يو مسافر يا د لارې تيريدونکی.**

دا حديث د مټريکس ضد تر ټولو قوي فارمول دی کله چې ته ځان مسافر وګڼې نو د سیسټم مادي جالې ستا روح نشي قید کولی.

**5. اروا پوهنيز دلایل او د خلاصون لاره:**

اروا پوهان د مټریکس د کنټرول حالت ته (Conditioning) وايي،

يعنې ستا اعصاب داسې عیار شوي چې د سیسټم په غوښتنه غبرګون وښيي.

**له مټريکس څخه څنګه ووځو؟**

بې پرې فکر (Critical Thinking): هر هغه څه چې په خبرونو کې ويل کيږي مه يې منه،

له ځانه وپوښته : دا ولې داسې دي؟ او دا د چا په ګټه دي؟

**مادي قناعت : هر څومره چې ستا مادي غوښتنې کمې وي، هغومره د سیسټم لاس ستا په غاړه کې کمزوری کیږي.**
**د روح تقویه : د لمانځه ، تلاوت او ذکر له لارې خپل روح له الله سره وصل کړه کله چې ستا روح له خالق سره وصل شي نو د مخلوق (مټریکس) جادویي اغیز ماتیږي.**
**پایله:**
**مټریکس د باطل یو داسې نظام دی چې غواړي ته یو روبوټ واوسې خو اسلام غواړي ته یو بنده واوسې،**
**بنده یوازې د الله امر مني خو روبوټ د سیسټم، د دې کتاب په لوستلو او عمل کولو وروسته تاسو د مټریکس د جالې لومړي تارونه شلولي دي.**

# 7. فصل:

## ځوانان؛ د دښمن د دسیسو لومړۍ کرښه

ځواني د انسان د ژوند هغه مرحله ده چې د یوې تیزې اوبه لرونکې چینې په څیر ده که سم لوري ته مهار شي ګلزارونه جوړوي خو که د دښمن په لاس ورشي هر څه تباه کوي.

**1. د ارواپوهنې له نظره :**

ځوانان د خپل عمر د ځانګړتیاوو له امله د دښمن لپاره اسانه ښکار وي:

عاطفي غلبه : ځوانان تر ډېره د عقل پر ځای پر احساساتو پریکړې کوي،

دښمن د احساساتي شعارونو (لکه کاذبه آزادي ، ماډرنیزم) له لارې هغوی په نښه کوي.
د نوي توب تنده : ځوان طبیعتاً غواړي نوي شیان تجربه کړي، کفار د فیشن ، نوي ماډل او عصري توب په نومونو داسې شیان وړاندې کوي چې ځوان د خپل پخواني کلتور او دین څخه متنفر کړي.
د هویت لټون : په ځوانۍ کې انسان غواړي خپل ځان ثابت کړي،
که موږ هغوی ته اسلامي اتلان معرفي نه کړو هغوی د هالیوډ او سپورټي ستورو په تقلید کې خپل هویت لټوي.
2. د بیولوژیکي او فزیکي قوت له نظره: ځوانان تر ټولو زیاته انرژي لري کفار غواړي د دوي دا انرژي په عبثو چارو کې مصرف کړي:

په لوبو (Games) بوختول : د PUBG او داسې نورو لوبو له لارې د ځوانانو وخت او انرژي ضایع کول ترڅو هغوی د امت د ستونزو په اړه فکر کولو ته وزګار نشي.

فحاشي او شهوت : د انټرنیټ له لارې د فحاشۍ خپرول د دې لپاره دي چې د ځوانانو ایماني غیرت او فزیکي قوت دواړه له منځه یوسي.

3. د ټولنیزو رسنیو دام (Social Media Trap)

ځوانان د ټیکنالوژۍ سره ډیر نږدې دي نو ځکه هغوی د ټیک ټاک او فیسبوک د زهرجنو محتویاتو لومړني لیدونکي دي،

هغوی په انلاین بڼه د شکمنو عقیدو او بې دینۍ (Atheism) د خپرونکو لپاره خورا اسانه هدفونه دي.

**4. شرعي دلایل او نبوي لارښوونې:**

**اسلام ځوانۍ ته د یو ستر امانت په سترګه ګوري او د هغې د ساتنې ډیر ټینګ حکم کوي:**

**رسول الله ﷺ فرمایلي دي : (لا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ، وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلاهُ...) (ترمذي)**

**ژباړه : د قیامت په ورځ به د بنده قدمونه له ځایه ونه ښوري ترڅو چې ترې د عمر په اړه پوښتنه وشي چې په څه کې یې تیر کړ او په ځانګړي ډول د ځوانۍ په اړه چې په څه کې یې زړه کړه.**

**دا چې د ځوانۍ په اړه جلا پوښتنه کیږي دا ښیي چې دا د ژوند تر ټولو قیمتي سرمایه ده چې دښمن یې د لوټلو هڅه کوي.**

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو اوو کسانو په اړه چې د قيامت په ورځ به د الله د عرش تر سيوري لاندې وي وفرمايل :

(وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللَّهِ) (متفق عليه)

ژباړه : او هغه ځوان چې د الله په عبادت کې را لوی شوی وي.دښمن غواړي ځوانان له جوماتو او عبادت څخه لرې کړي ترڅو د هغوی زړونه له معنوي قوته خالي وي او په اسانۍ يې غلامان کړي.

**5. د خلاصون لاره او د ځوانانو مسؤليت:**

ځوانان بايد پوه شي چې هغوی د دې امت سترګي دي،

د خلاصون لپاره لاندې ټکي مهم دي:

بيداري (Awareness) : ځوان بايد پوه شي چې هر هغه اعلان يا فلم چې دی يې ګوري يو هدف لري بايد په هر څه پټې سترګې باور ونه کړي.

د ملګرو انتخاب : د بد ملګري له لارې ځوانان بې لارې کيږي،

يو ځوان بايد د صالحو او بافکره خلکو ملګرتيا وکړي.

هدفمند ژوند : که يو ځوان د ځان لپاره لوی هدف لکه (د اسلامي امت خدمت) ونه لري هغه به د کوچنيو او بې ارزښته لذتونو ښکار شي.

# 8. فصل:

# د خلاصون لاره او د اسلامي اُمت بيداري

کله چې يو مسلمان د کفارو له دسيسو خبر شي نو بايد ناهيلی نشي،
اسلام موږ ته د داسې نظام لارښوونه کړې چې که پرې عمل وکړو هيڅ دښمن مو نشي ماتولی،
د خلاصون لارې په لاندې ټکو کې نغښتې دي:

**1. د علم او بصيرت ترلاسه کول:**

د کفارو لومړی وسله د مسلمانانو په وړاندې جهل دی،
هغوی غواړي مسلمانان له خپل دين او عصري علومو لرې وساتي،

**موږ باید په دواړو برخو کې مخکښ واوسو هم باید خپله عقیده په صحیح ډول وساتو او هم باید په ټیکنالوژۍ ، اقتصاد او سیاست کې دومره مهارت ولرو چې د دښمن په پټو کوډونو پوه شو.**

**2. د خپلواک اقتصاد رامنځته کول:**

**تر څو چې موږ د لویدیځ په پورونو او سودي ایپسونو لکه (انلاین فلیټ فارمونو چې زموږ او تاسي خلکو د انلاین تجارت نوم ورکړي) پسې منډې وهو هغوی به پر موږ حاکم وي،**

**د اسلامي بانکوالۍ ترویج ، د سودي معاملاتو پریښودل او په خپل منځ کې د تجارتي اړیکو ټینګول،**

**موږ باید د اسراف او مصرفیزم کلتور پریږدو او پر خپلو منابعو بسنه وکړو.**

**3. د رسنیو پر وړاندې فکري ډال (Shield)**

**موږ نشو کولی انټرنیټ بند کړو خو کولی شو خپل ذهنونه د هغوی له اغیز وژغورو،**

**د خپلو کورنیو او ماشومانو روزنه باید هغوی ته وښیو چې د لویدیځ فلمونه او ډرامې یوازې ساعت تیري نه ده بلکې زموږ د حیاء او عفت د لوټلو هڅه ده،**

**د بدیلو اسلامي رسنیو جوړول او تقویه کول اړین دي.**

**4. یووالی او اتحاد:**

**د کفارو تر ټولو لویه بریا زموږ په تفرقه کې ده،**

**هغوی موږ په قومونو ، ژبو او سمتونو ویشلي یو،**

**د قرآن دغه حکم ته غاړه ایښودل :**

**(واعتصموا بحبل الله جمیعاً)**

**تر څو چې د امت درد يو نشي ، دښمن به مو يو يو ښكار كوي.**

**الله تعالی او د هغه رسول ﷺ موږ ته د خلاصون او عزت لارې داسې ښودلې دي:**

**(وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ) (آل عمران: 139)**

**ژباړه : او مه سستيږئ او مه غمجن كيږئ ، تاسو به لوړ او (بريالي) يئ كه چيرې تاسو (رښتيني) مؤمنان واوسئ.**

**دا ايت ثابتوي چې د كفارو هر رنګ دسيسې يوازې هغه وخت ماتيږي چې موږ خپل ايمان قوي كړو،**

**زموږ د ذلت علت د كفارو قوت نه بلكې زموږ د ايمان كمزوري ده.**

**(وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ (آل عمران: 120)**

**د نړۍ پټ رازونه**

ژباړه : او که تاسو صبر وکړئ او تقوا (پرهیزګاري) غوره کړئ، نو د دوی (دښمنانو) مکر او فریب به تاسو ته هیڅ زیان ونه رسوي.

صبر او تقوا یوازې د تسبیح اړول نه دي بلکې د دښمن په وړاندې په میړانه دریدل او له ګناهونو لکه (سود او فحاشۍ) څخه ځان ژغورل دي.

رسول الله ﷺ فرمایلي : (مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى) (صحیح بخاري)

ژباړه : د مومنانو مثال په خپلمنځي مینه ، شفقت او خواخوږۍ کې د یو بدن په څیر دی کله چې د بدن یو غړی په درد شي،

نو نور ټول بدن ورسره په بې خوبۍ او تبه کې شریک وي.

د كفارو دسيسې هغه وخت شنډيږي چې په افغانستان کې ناست مسلمان د وزيرستان ، فلسطين ، شام او کشمير د مسلمان په درد دردمن شي او د هغوی د خلاصون لپاره عملي هڅه وکړي.
دا هڅه که په هره برخه کي وي ..!
ځاني جهاد وکړي،
که هغه نشي کولای مالي جهاد وکړي چي څومره مو تر وس پوره وي،
او که هغه مو هم تر وسه نه وي پوره د ميډيا او ټولنيزو رسنيو له لاري مبارزه جاري وساتي تر څو د الله تعالی په وړاندي د خپل مسؤليت حق ادا کړي.
(لِيُحِقَّ الْحَقَّ وُ بْطِلَ الْباطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ) (الانفال: 8)

**ژباړه : الله تعالی جهاد فرض کړي دی د دي لپاره چي دین اسلام غالب کړي او کفر او باطل ختم کړي اګر که بد یي ګڼۍ مجرمان خلک.**

**(إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ)(سورة توبه: 111)**

**ژباړه : حقیقت داده چي الله تعالی له مؤمنانو څخه د هغوي نفسونه او د هغوي مالونه د جنت په بدله کي اخیستي دي چي هغوي د الله په لار کي جنګیږي،**

نو دوي كافران وژني او وژل كيږي له هغوي سره په تورات ، انجيل او قران كي د جنت وعده د الله په ذمه يو كلكه او پخه وعده ده څوک دي چي د الله څخه زيات د خپلي ژمني پوره كوونكي وي نو خوښ اوسئ په خپلي دغي سودا سره چي له الله سره مو كړي ده همدا تر ټولو ستر برياليتوب دي.

(كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرهٌ لَّكُمْ وَعَسى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْأً وَّ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسى اَنْ تُحِبُّوْ شَيْأً وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَ الله يَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لاَ تَعْلَمُوْنَ) ( البقره: 216)

**ژباړه : فرض کړل شوي دي په تاسو باندي جنګ او جهاد کیدای سي چي تاسو به بد ګڼۍ یو شئ هغه به تاسو لره غوره او ښه وي او کیدای سي چي تاسو به ښه ګڼۍ یو شئ نو هغه به تاسو لره بد وي او الله پوهیږي او تاسو نه پوهیږي.**

**د کتاب پای ...!**

**زموږ دښمن مکار دی خو ...!**
**(ان کید الشیطان کان ضعیفا)**
**(بیشکه د شیطان مکر کمزوری دی)**

**که موږ بیرته خپل اصل (قرآن او سنتو) ته وګرځو د هغوی ټولې پټې نقشې ، انلاین سودونه ، فکري جګړې او روغتیایي دسیسې به د دوړو په څیر والوزي،**

**موږ په دغه کتاب (د نړۍ پټ رازونه) کې د فکري ، اقتصادي ، روغتیایي او ټولنیزو دسیسو په اړه بحث وکړ،**

**دا ټولې دسیسې یو هدف لري : د مسلمانانو بې لارې کول او د هغوی ذلیل ساتل،**

**خو د خلاصون لاره یوازې او یوازې د قرآن او سنتو په رڼا کې بیداري او یووالی دی،**

**هغه کسان چې په تیارو کې پاتې کیږي او هغه کسان چې نور ته رسیږي هیڅکله یو ځای کیدای نه شي.**

**انسان ړوند دی او حقیقت نه شي لیدلی خو بل یو بیا له مرګه راپورته کیږي په زړهویني او په روح یې احساسوي،**
**د نړۍ سفر یوازې د دوو دروازو ترمنځ یوه سایه ده،**
**اول زیږون دی او دوهم مرګ،**
**په دې لنډ سفر کې ځینې خلک خپل ځان غوښتنو ته ماته ورکوي او نور خپل زړونه پاکوي.**
**ځینې د دنیا سره تړلي وي او ځینې له عرش سره نښتي وي، ځینې له خپل نفس سره جګړه کوي او ځینې ورته سجده کوي،**
**خو دا په روح او زړه پاک خلک .....!**
**هغوی داسې په حال او هوا تګ کوي لکه د جنت بوی چې لري.**

**د نړۍ پټ رازونه**

**لاره سخته ده خو انعام يې لوی دی،**
**پاک زړونه او الهي سکون،**
**له همدې امله هغه کسان چې پر دې لاره روان وي نه ډارېږي، ځکه چې د دوی لارې هغه بې نیاز ذات ته رسیږي.**

**اخير کي دومره وايم چي :**
**زموږ نفسونو موږ او تاسي په يوه لويه دوکه کي غورځولي يو چي د الله تعالی د دښمنانو څخه د بغاوت کولو پرته به موږ د الله تعالی شو؟**
**دومره حساس وخت ده چي د هر مسلمان ايمان ته ليوه ګونډه وهلي ناست دي،**
**د انساني تاريخ ډاروونکو فتنو ژامي خلاصي کړي او د ټول انسانيت د تيرولو په هڅه کي دی،**

**که اوس هم د راویښنیدو وخت نه وي راغلي نو باور وکړي چي له دي وروسته به ویده خلک د اسرافیل شپیلي راپورته کوي،**
**په نړۍ کي رامنځته کیدونکي پیښي که پټي وي یا ښکاره د ویدو خلکو لپاره د راویښنیدو پیغام دی د هغو خلکو لپاره چي سستي او لټۍ ښکار دي او فکر کوي چي د نړۍ دا رڼاګاڼې او ښکلاوي به تل وي په داسي حال کي چي هیڅ به هم پاتي نشي.**
**(اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ)**
**ژباړه : د خلکو د حساب وخت را نژدې شویدی او حال دا چي دوی په غفلت کښي مخ اړوونکي دي.**

**د دعاء په هیله مو ...!**

**Facebook : Faiz Khan**

**فیسبوک لینک: ⬇**

**https://www.facebook.com/share/1ChpCPCZTA/**